۱۲ لاربنود

# د محاسبي او اسنادو ساتني لارې

منل خدمت | ډاډ

اطاعت پذیری | خدمت | اطمینان

Compliance | Service | Making Sure

## سریزه

دا لارښود د میشتو افغانانو د تشبث د مجرائی ورو او نه ورو مصارف تشریح کوي. د غیر میشتو اشخاصو د مالیاتي موضوع ګانو لپاره ۲۳ لارښود (د غیر میشتو اشخاصو اړوند مالیاتي موضوع ګانې) ته مراجعه وکړئ.

د ۱۳۸۷ لمریز کال پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون د۱۸ مادې مطابق، د حقیقي او حکمي اشخاصو د عوایدو د تولید، تحصیل او ساتنې په موخه ټول عادي او ضروري مصارف د مجرائی ور دي، په دې شرط چې د مالي کال په اوږدو او یا د تیرو درېو کلنو څخه په یو کال کې ترسره شوي وي.

## څه ډول مصارف د مجرائی ور دي؟

د عوایدو عادي مصارف د معاملو له ناخالصې ګټې یا عوایدو څخه د مالیې ور عوایدو د تثبیت په موخه، د مجرایي ور دي. د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون ۱۸ مادې د هغو عادي او اړینو مصارفو لست په بر کې نیسي چې د مالیې ور عوایدو د تثبیت په موخه د شرکت د عوایدو څخه وضع کیږي. غیر عادي او غیر اړین مصارف د مجرایي ور نه دي.
داسې مصارف هم شتون لري چې د مالیاتو له لحاظه د مجرائي ور نه دي، نو پر دې بنسټ د تشبث خالص عواید یا ګټه کیدای شي د شرکت د خاوند د دفترونو د مالیې ورعواید د مالیاتو د قانون مطابق سره توپیر ولري. د مجرایي ور مصارف په لاندې ډول دي:

۱. د تولیدي جنسونو تمام شوې بیه او یا د پلور او سوداګرۍ مصارف د وړنې راوړنې بیمه او د اسې نور.
۲. د سامان او لوازمو، روغنیاتو، برېښنا، اوبو او نورو ضروري خدمتونو بیه چې د عوایدو په لاسته راوړلو یا کار او سوداګرۍ کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي.
۳. معاش، مزد، کمیشن او فیس چې د کارکوونکو مستخدمینو د خدمتونو په وړاندې ورکول کیږي.
۴. د کار او سوداګرۍ د پورونو له درکه پولي ټکټ
۵. په پیسو باندې د ونډې د ګټې ورکړه د حکمي شخصیت په واسطه چې د هیواد د نافذه قوانینو سره سم تاسیس شوی وي.
۶. د مالونو او ملکیت له درکه ورکړل شوې کرایه چې په کار او

### یادونه

د مالیاتي لارښودونو او فورمو د لاسته راوړلو په بدل او د مالیاتو د ارزونې، ترلاسه کونې او د قانون د پلي کونې د پروسو په هیڅ مرحله کې مالیې وزارت یا د عوایدو ریاست ته فیس یا حق الزحمه نه ورکول کیږي.

که چیرې مالیه ورکوونکي خپل مالیاتي اظهارلیک وړاندې نه کړي نو د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون له مخې ورباندې جریمې وضع کیږي. دغه جریمه هغه وخت هم پلي کیږي که د مالیاتي اظهارلیک په موده کې هیڅ ډول مالیه هم شتون ونه لري. د دې لپاره چې د جریمې څخه مخنیوی شوی وي، مالیه ورکوونکي باید حتی د مالیاتو د نه شتون په صورت کې هم خپل مالیاتي اظهارلیکونه وړاندې کړي او په کې وښایي چې د ورکړې وړ مالیې شتون نه لري.

سوداګرۍ کې اړینه او ورڅخه ګټه اخیستل کیږي.

۷. د جایدادونو او تجهیزاتو چې په سوداګرۍ او یا تشبث کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، ترمیماتو او ساتنې مصارف

۸. د هغو منقول او غیر منقول مالونو (د ځمکې څخه پرته) استهلاک چې په کار یا سوداګرۍ کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي او یا د عایداتو د تولید په موخه د مؤلد په اختیار کې وي، د عایداتو باندې مالیې د تعلیماتنامې سره سم د مجرائۍ وړ دي. د شتمنۍ ارزښت یا تمام شوې بیه په یو ځل کې د مجرائې وړ نه ده، بلکه په تدریجي شکل سره د شتمنۍ د عمر په اوږدو کې استهلاک کیږي. (د شتمنیو د استهلاک په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره ۲۰ لارښود ته مراجعه وکړئ). د شتمنیو د استهلاک کسراتو مجموع د تعلیماتنامې مندرجه موده کې نه باید مالیه ورکوونکي ته د هغې د تمام شوي مصرف څخه زیات شي.

۹. هغه مالیه او محصول چې په خپل ذات د کار او سوداګرۍ، د عوایدي ملکیت ساتنې، او یا د عایداتو د تولید په موخه لازمې مصرف دی، په دې شرط چې مالیه ئې د کال په اوږدو کې تادیه او یا تراکم کړې وي. هغه مالیې چې د مالیاتو د قانون د احکامو سره سم وضع شوې وي او هغه مالیې چې د کار او سوداګرۍ د لازمي مصارفو له جملې څخه و نه ګڼل شي، د مجرائۍ وړ نه دي، مګر داچې پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون کې په بل ډول وړاندویل شوي وي.

۱۰. د درې کلونو په اوږدو کې منقول او غیر منقول مالونو ته وارده خسارې لکه اورلګیدنه، زلزله، او نور غیر مترقبه پیښې، په دې شرط چې بیه ئې تثبیت او په دې اړه د تثبیت سند وړاندې شي او د بیمې موسسو لخوا جبران شوي نه وي.

۱۱. په کار یا سوداګرۍ کې د لاحصولو پورونو له کبله خساره د عایداتو باندې مالیې سره سم.

۱۲. د کار یا سوداګرۍ نور مصارف او د عایداتو د تولید په موخه د منقولو او غیر منقولو مالونو په واک کې درلودل او د اړوندو قوانینو مندرج د عایداتو د تولید مصارف.

معاش او مزد منظمه ورکړه، بخششې، اضافه کارې، په ماضي کې د معاشونو لوړوالی او نورې ورکړې چې د آمر لخوا کارکوونکي ته په نغدي

**یادونه**

د حکمي اشخاصو د ونډې ګټې، تکتانې، حق الامتیاز، کرایو، کمیشن، معاشونو، مزد، قراردادیانو ته د ورکړو له مبلغونو او ورته مصارفو مجرائي په هغه صورت کې چې مالیې په وضع کولو مکلف وي خو د مالیې په وضع کولو کې پاتې راغلي وي، نه ورکول کیږي.

او غیر نغدي بڼه ورکول کیږي، احتوا کوي. هغه مالیې چې د کارکوونکو له معاش او مزد څخه وضع او د دولت حساب ته انتقالیږي، د کارکوونکي د معاش او مزد برخه ګڼل کیږي.

بیلګه: یوشخص د ۲۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې په یو شرکت کې دنده تر سره کوي. د لیندی په میاشت کې نوموړي شخص ارتقا وکړه او معاش ئې ۲۴۰۰۰ افغانیو ته لوړ شو چې د تلې له لومړی څخه د تطبیق وړ ده. د کال په پای کې شرکت هر کارکوونکي ته ۵ په سلو کې بخششي ورکوي. یاد شوی شرکت مکلف دی تر څو ټول یاد شوي اقلام په معاش کې شامل کړي او رپوټ ورکړي. همداراز یاد شوی شرکت کولای شي د معاش ټول مصارف په لاندې ډول وضع کړي:

| | | |
|---|---|---|
| الف. معاش (لومړی شپږ میاشتې افغانۍ) | ۱۲۰۰۰۰ | (۲۰۰۰۰×۶ |
| ب. معاش (دویمې شپږ میاشتې) (۲۴۰۰۰×۶ افغانۍ) | ۱۴۴۰۰۰ | |
| ج. ۱۲ میاشتنی معاش | ۲۶۴۰۰۰ | |
| د. د کلني معاش ۵ په سلو کې معاش (د ۲۶۴۰۰۰ افغانیو ۵ په سلو کې) | ۱۳۲۰۰ | |
| ه. د معاش او بخششي مجموعه | ۲۷۷۲۰۰ | |

د تشبث د پورونو تکتانه د مجرائی وړ ده، خو د شخصي پورونو تکتانه د مجرائي وړ نه ده. شخصي پورونه عبارت دي له هغو پوررونو څخه چې د مالونو او خدمتونو په پیرودلو کې د شخصي مصرف او یا استفادې لپاره لګول شوي وي. د تشبث پورونه عبارت دي له هغه پورونو څخه چې د تشبث د ځمکې د پیرلو، تعمیر، وسایل، جنسونو او داسې نورو، اجارې، پلور، د جنسونو یا خدمتونو د تولید او نورو موخه لپاره په مصرف رسیدلي وي.
بیلګه: عزیز د خپلې شخصي استفادې لپاره د یو کمپیوټر د پیرلو لپاره له خپل ورور څخه یو مقدار پیسې په پور اخلي. عبدالله له خپل ورور عزیز څخه هر کال ۲ په سلو کې تکتانه اخلي. عزیز نشي کولای ۲ په سلو کې تکتانه له خپلو عوایدو څخه د مصارفو په توګه وضع کړي.
تر څو چې مالیه ورکوونکی د استهلاک مصارف په واضح ډول ونه ټاکي

یاد شوي مصارف د مجرائی وړ نه دي. هره بیه چې د استهلاک د مصارفو د اخیستنې لپاره و ټاکل شي، د دغه راز ملکیت د پلور په موخه، د مالیه ورکوونکي اړوند وي. که چیرې د یو تعمیر خاوند د مصارفو او استهلاک په ټاکنه قادر نه وي، په دې صورت کې د مالیې وزارت په دې زمینه کې هیڅ مصرف د مجرائۍ وړ نه بولي. که چیرې مالیه ورکوونکی د مصاروفو او استهلاک د اساس په اړه کافي اسناد چمتو کړي، نو په دې صورت کې استهلاک د مجرائۍ وړ یو مصرف منل کیږي. د استهلاک دمجرائۍ په اړه لازیاتو معلوماتو لپاره ۲۰ لاربنود (د شتمنیو استهلاک) ته مراجعه و کړئ.

هغه مالیې چې د تشبث اړین مصارف دي معمولاً د مجرائی وړ دي، دبیلګې په ډول، دتشبث د انتفاعي معاملو مالیه، ګمرکي محصولات، او د ښاروالیو تکس چې د کرایوي شتمنیو څخه ورکول کیږي، د مجرائي وړ دي. پر عایداتو باندې مالیې د مجرائی وړ مصارف نه دي.

یو آمر کولای شي هغه غیر نغدي عواید چې خپل کارکوونکي ته ئې ورکوي، د مصرف په نامه وضع کړي، خو په دې شرط چې کارکوونکي ته د غیر نغدي عوایدو ورکوونه په نیغه بڼه د دندې په چوکاټ کې ورکړل شوی وي.

بیلګه: یو ساختماني شرکت له ښار څخه په څه واټن کې د اوبو بند په جوړولو بوخت دی. شرکت مکلف دی ترڅو له ښار څخه تر سیمې پورې د کارکوونکو د انتقال لپاره هر ورځ ترانسپورتي آسانتیاوې چمتو کړي. دا مصرف د تشبث یو قانوني مصرف دی او شرکت کولای شي داسې مصارف له عوایدو څخه وضع کړي.

تبصره: که چیرې کارکوونکي ساحې ته د تګ راتګ په موخه له شخصي موټرونو څخه ګټه واخلي، په دې صورت کې هغوی نشي کولای د سفر مصارف له خپلو عوایدو څخه وضع کړي او په مالیاتي اظهارنامه کې ئې وښیي.

د اور لګیدنې، توفان، انساني تلفاتو او نورو پیښو په پایله کې د سرمایې

ضرر «د عوایدو د تولید تحصیل او ساتنې په موخه» ، البته یوازې هغه مقدار چې د بیمې تر پوښښ لاندې نه دې نیول شوې، د مجرائی وړ دي. دداسې مجرائی د ادعا لپاره، مالک مکلف دی ترڅو د لاسه تللې شتمنۍ د ارزښت یا بیې اسناد له ځانه سره ساتلې وي. د ضرر یو پر دریمه برخه هغه کال کې چې ضرر پکې پیښ شوی دی د جبران وړ ده او دوه پر دې برخه ئې په دوو راتلونکو کلونو کې د جبران وړ ده.

د شتمنی حق البیمه چې د عوایدو د تولید، تحصیل او ساتنې لپاره په مصرف رسیږي د تشبث یو قانوني مصرف دی او په بشپړ ډول د مجرائی وړ دی. د بیمې د شرکت لخوا د خسارې جبران د مالیې تابع نه دی، مګر داچې د جبران مبلغ د لاسه تللې شتمنۍ د استهلاک له بیې اضافه وي. په دې صورت کې د شتمنی خاوند مکلف دی ترڅو د عوایدو د نامه لاندې اضافي مبلغ رپوټ ورکړي.

په ګرانه ترلاسه کیدوونکي پورونه- د مالیه ورکوونکي په ګرانه ترلاسه کیدوونکي پورونه په یو مالي کال کې په هغه صورت کې د مجرائی وړ دي چې راتلونکو شرایطو ته ځواب ووایي:

د پور مبلغ له وړاندې د مالیه ورکوونکي د مالیې وړ عوایدو کې شامل شوي وي.

ب) د پور مبلغ د مالي کال په اوږدو کې د مالیه ورکوونکي له مالي حسابونو څخه حذف شوي وي ، او

ج) مالیه ورکوونکی ددې په اړه چې پور ترلاسه کیدای نشي، معقول دلیلونه ولري.

دا شرایط د بانکونو په اړه چې د **۱۳۸۷** لمریز کال پرعایداتو باندې مالیاتو قانون **۵۲** مادې سره سم چې د زیانونو په وړاندې د ذخیرې د زیاتوالي له درکه د مجرائی مستحق وي، نه تطبیقیږي.

بیلګه: د احمد د خبرتیاوو شرکت ورځپاڼو او رادیوګانو ته د اعلانانونو خدمتونو وړاندې کوي. د احمد د خبرتیاوو شرکت د شیراز رستورانت سره موافقه کړې ده چې د شیراز رستورانت سوداګریزې خبرتیاوې په ورځپاڼه او

راديو کې په مياشتني شکل خپرې کړې او د خدمتونو صورت حساب چې ۵۰۰۰ افغانۍ کيږي، د شيراز رستورانت ته وليږدوي. شيراز رستورانت يوه مياشت د احمد د خبرتياوو شرکت د خدمتونو بل نه ورکوي. د احمد د خبرتياوو شرکت د شيراز رستورانت سره خدماتي تړون فسخه کوي. د احمد د خبرتياوو شرکت په داسې حال کې چې د محاسبې د وروستۍ طريقي څخه په ګټه اخيستو د خپلو عوايدو په محاسبه مکلف دی، او د خبرتياوو خدمتونو ئې پخوا ترسره کړي دي، ۵۰۰۰ عوايد ئې له وړاندې څخه د شرکت په عوايدو کې شامل کړي دي. د احمد د خبرتياوو شرکت هڅه کوي ترڅو دغه پيسې ترلاسه کړي. ياد شوی شرکت شيراز رستورانت ته ټيلفون کوي او ليک وراستوي خو پيسې نه ترلاسه کوي. په تدريج سره شيراز رستورانت خپل فعاليت دروي.

د احمد د خبرتياوو شرکت معقول دليلونه لري چې دا پور د ترلاسه کيدو وړ نه دی. ياد شوی شرکت کولای شي دغه مبلغ په لاحصولو پورنو کې محاسبه کړي او دخپل شرکت د عوايدو څخه ددې رقم د مجرائۍ ادعا وکړي.

تبصره: که چيرې يو مبلغ د لاحصول پور تر نامه لاندې له حساب څخه حذف شي خو بيا وروسته ددې يوه برخه يا ټول لاسته راشي، نو په دې ورت کې ترلاسه شوی مبلغ د تشبث عايد ګڼل کيږي.

## ډول مصارف د مجرايي وړ نه دي ؟

## د مجرائی نه وړ مصارفو بيلګې:

الف. ډالۍ
ب. غير قانونی مصارف
ج. مرستې
د. پر عايداتو باندې ماليات
ه. د مالي نهادونو د پورونو له درکه د منځته راغلو زيانونو پرته، د احتمالي پيښنو، په ګرانه ترلاسه کيدونکو پورونو او دې ته ورته نورو مواردو په موخه په ذخيرو کې زياتوالی راوستل
و. د مالي نهادونو د پورونو له درکه د منځته راغلو هغو زيانونو په

### يادونه

که چيرې د خدمتونو يا شتمنيو (منقول يا غير منقول) له لارې مو مصارف منلي وي، تاسې بايد د مجرائۍ وړ مصارف په بازار کې د شتمنۍ يا خدمت د مناسب ارزښت پر بنسټ البته په هغه نيته کې چې مصارف ترسره شوي، يا د محاسبې د نغدي طريقي پر بنسټ هغه نيټه کې چې مو انتقال کړي دي، وضع کړئ.

بيلګه: وحيد د غاښونو يو ډاکټر دی. هغه د عزيز په نامه يو ترکاڼ په خپل درملتون کې د کتابونو د يوې الماری جوړونې لپاره استخداموي. نوموړی ډاکټر هوکړه کوي چې د نغدو پيسو پر ځای د عزيز د دوه زامنو د غاښونو کتنه وکړي. معمولاً د غاښونو کتنې مصارف ۱۰۰۰۰ افغانۍ کيږي. نو بناغلی وحيد بايد ۱۰۰۰۰ افغانۍ د عوايدو په نامه په خپله مالياتي اظهارنامه کې ونبيي.

موخه په ذخیرو کې زیاتوالی راوستل چې پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون کې د ټاکل شوي حد څخه زیات وي

ز. د پیرل شویو جنسونو تمام شوې بیه چې د خاوندانو یا کارکوونکو په شخصي یا کورني موخو ورڅخه کاراخیستل کیږي او خرڅ شوي نه وي.

ح. د هغو جنسونو تمام شوې بیه چې پیرل شوي وي خو پیرونکي یا مؤلد ته بیرته ستانه شوي وي.

ط. مالکینو، کارکوونکو، او د رهبری سطحې ته د ګټې وړاندې کوونې تمام شوې بیه چې د فعالیت د پرمختیا لپاره اړین نه دی.

لومړۍ بیلګه: یو انفرادي شخص د یوې فابریکې څښتن دی. نوموړی شخص د فابریکې د ترلاسه شوو عوایدو څخه د خپلې کورنۍ د استفادې په موخه یو موټر اخلي. دا ډول مصارف د یاد شوي شخص د مالیې وړ عوایدو د ټاکنې پر مهال د مجرائی وړ نه دي.

دویمه بیلګه: یو انفرادي شخص د موټر پیریدلو او پلورلو د دفتر مالک دی او ۱۰ عرادې موټرې د بیرته خرڅلاو په موخه هر یو په ۱۲۰۰۰۰ افغانۍ پیري. یاد شوی شخص ۲ عرادې موټر د خپلې کورنی د استفادې په موخه ساتي او پاتې ۸ نور ئې په اوسطه بیه هر یو ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ خرڅوي. که چیرې د ټولو پیرودل شوو جنسونو مجرائي مجاز وي، اصلي ګټه کتمان کیږي:

الف. د فروشاتو له درکه عواید (۸×۲۰۰۰۰۰ افغانی)=۱۶۰۰۰۰۰ افغانۍ

ب. د جنسونو تمام شوې بیه (۱۰×۱۲۰۰۰۰ افغانی)=۱۲۰۰۰۰۰ افغانۍ

ج. ناخالصه ګټه = صفر

حال دا چې صحیح اظهارلیک په لاندې ډول وي:

الف. فروشات (۸×۲۰۰۰۰۰ افغانۍ) = ۱۶۰۰۰۰۰ افغانۍ

ب. د جنسونو تمام شوې بیه منفي د شخصي استفادې لپاره دوه موټر (۸×۱۲۰۰۰۰ افغانۍ)=۱۲۸۰۰۰۰ افغانۍ
ج. ناخالصه ګټه = ۳۲۰۰۰۰ افغانۍ

۱. د شخصي مصارفو کسر او وضع د لاندې اقلامو په ګډون غیر مجاز ده د مجرائي وړ نه ده.

۱. اشخاصو ته هغه ورکړې چې د هغوئ یا د هغوئ د کورنیو د خوښې او ګټې په موخه ترسره کیږي
۲. د مالیه ورکوونکي یا د هغه د کورنۍ د کور یا استوګنځي یا د هغه د شخصي یا د هغه د کورنۍ د استفادې په موخه د هر ډول ځانګړې شوی ملکیت د حفظ او مراقبت، ترمیم، تعمیر او د کور د سامان اړوند او نور مصارف
۳. په شخصي پورونو باندې ټکټانه
۴. د کار ځای ته د تګ راتګ او شخصي موخو لپاره د سفر مصارف.
۵. د مالیه ورکوونکي او د هغه د کورنۍ د ساتنې په موخه د ژوند، تصادم، او روغتیا یي بیمو مصرف، او
۶. د شخصي استفادې په موخه د هر ډول مال او ملکیت د ساتنې په موخه د بیمې هر ډول مصارف.

## د مالیاتو اړوند مالومات

د عوایدو لوی ریاست اداري او مستوفیتونه مالیه ورکوونکو ته په وړیا توګه فورمې، لارښودونه او لارښوونې وړاندې کوي چې دا مواد په چاپ شوي او همداراز له یوه نوي ویب پاڼ
http://www.ard.gov.af څخه د راښکته کیدو وړ بڼو ترلاسه کیدای شي. یاده ویب پاڼه د عوایدو د لوی ریاست او مستوفیتونو موقعیتونه، د اړیکو شمیرې او کاري ساعتونو په اړه مالومات وړاندې کوي. مالیه ورکوونکي همداراز کولای شي نور ګټور مالومات لکه عامې خبرتیاوې او طرزالعملونه، د معاش د موضوعي مالیې په اړه پوښتنې او ځوابونه، د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو قانون، او تعلیماتنامه ترلاسه کړي. یاده تعلیماتنامه د قانون هره ماده او اړوند مقررات په جلا توګه خیړي او د ګټورو بیلګو په لرلو سره مالیه ورکوونکو ته لا ډیره آسانتیا په برخه کوي.

## یادونه

د http://www.ard.gov.af په ویب پاڼه کې د مالیه ورکوونکي اړوند معلوماتو د پاڼې شتون مالیه ورکوونکي ته د ګټورو او اړینو معلوماتو د ترلاسه کولو کار تر ډیر کچه اسانه کړی دی. په دې پاڼه کې مالیه ورکوونکی کولی شي د ۱۳۸۷ لمریز کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون، بیلابیلې عامه خبرتیاوې، کړنلارې، فورمې، لارښودونه، ارشیف شوي سندونه، د معاش د موضوعي مالیې اړوند پوښتنې او ځوابونه او داسې نور معلومات ترلاسه کړي. په دې پاڼه کې همدارنګه پر عایداتو باندې د مالیاتو لارښود کتاب (تعلیماتنامه) هم شتون لري چې په هغې کې د قانون هره ماده او مقررات د ګټورو مثالونو څخه په ګټې اخیستنې په جلا توګه تشریح شوي ده.

001E 01 03 2012